خــــــــــــورشید عطائی

تورونتو ـ ۲۱ اپریل ۲۰۱۵


# زما کلی

هلته چې زما ورکوتې کلي باندې
د صبحدم د لمر ځادر غوړيده
شاهانه تاج به د زرينو وړانګو
هرې جونګړې ته پر تندي ځليده
د پسرلي د راتلو وخت به چې ؤ
په کور او کلي کې اختر جوړيده
پيغلې به ووتې باغونو خواته
راتولول به يې رنګين ګلونه
د تورو سترګو سرو شالونو سره
هر چا سره به وو خپل خپل خيالونه
مازيګرى د ګودر غاړې باندې
د منګوټيو به کتار جوړ وو
د ديدنونو او خوښيو لپاره
داسې ځايونه به بې شمار جوړ وو
همزولو يو بل ته ټپې ويلې
خوږو نغمو کې افسانې ګډيدې
د بلبلانو په خوږو غږونو

د چنارو پسر نغمي ګډيدې

خو اوس؟؟؟

اوس هم اسمان همغه او ځمکه هغه

خو د دي تورو شپو سهار نشته

فصلونه ځي بېرته راځي په تش لاس

ورسره زيـــری د بهار نشته

د سرو شالونو نه جنډې جوړې شوې

د جينکــــــــو هغه دوران نشته

اوس د چمن ساز و سامان نشته

هلته د ژونـــد امن او مان نشته

د ګــودر غاړه ويرانه جوړه شوه

جنت خاني نه غمخانه جوړه شوه

دا څـــه عجيبه زمانه جوړه شوه

د ليونيانــــــو سامانه جوړه شوه

اوس خو نه زه، نه مي ياران دي هلته

اوس ديـــــره شوي بنامــاران دي هلته

کلي کـــــــــورونه اوس ويران دي هلته

هرڅوک په واک کي د طوفان دي هلته

اوس مي جذبه ها پخوانۍ مينه ده

هلته ژوندی مي د ځوانۍ مينه ده

دا زما مينه غرنۍ مينه ده

دا زما خپله ليونۍ مينه ده